مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



محمد انور آخڼ


۲۰۲۳/۰۷/۱۶

# د جمهوریت د سقوط عوامل

## د جنګسالارانو ونډه

(اتلسمه برخه)

**تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکتر عبدالله، عبدالله (۱۱)**

**په افغانستان کې سوله او د سولې عالي شورا جوړښت (۲)**

د سولې په نوم بله خندوونکي او حیرانوونکي لوبه داسې وه چې په افغانستان کې مېشتو بېلابېلو بهرنیو استخباراتو او نورو ادارو له طالبانو سره د سولې په موخه اړیکې ټینګولې، انګرېزي استخباراتو د طالبانو د تحریک مرستیال ملا اختر محمد منصور په نوم، یو بدل کس چې د ملا اختر محمد منصور له څېرې سره یې شباهت درلود، له پاکستان څخه کابل ته په چورلکه کې راوست. د حامد کرزي د دفتر رییس محمد عمر داؤدزي واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته ویلي وو:«یو کس چې د طالب قوماندان ملا اختر محمد منصور په نامه یاد شوی ؤ، د ولسمشر حامد کرزي لیدو کتو ته راوستل شو چې دا ملا منصور د ناټو د چورلکې پر مټ د پاکستان له خاورې افغانستان ته لېږدول شوی ؤ او د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې ښکته کړل شوی ؤ.» (۱۳۸۹ل. ل)

محمد عمر داودزي زیاته کړه چې نوموړی د برتانوي ډیپلوماتانو [استخباراتو] له خوا د ولسمشر لیدو ته راوستل شوی ؤ. داودزي دا هم تایید کړه چې برتانوي ډیپلوماتان په دغه غونډه کې ناست وو. د برتانیا استخبارات (ام. ای. ۶) هم مني چې له افغان چارواکو سره یې د دغه سړي د لیدو په چاره کې مرسته کړې ده

https://tolafghan.com/posts/20495




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ولي نوري چې د امنيت شورا غړی او د ولسمشر په دفتر کې یې دنده ترسره کړې ده د جعلي ملا منصور په اړه ليکي چې هغه د ولسمشر حامد کرزي د وژلو په موخه، د انګرېزانو او پاکستان لخوا رالېږل شوی ؤ چې په دوېم یا درېم ملاقات کې پر حامد کرزي چاودنه وکړي ... .
وايي چې دغه بدل ملا منصور چې په کوټه کې يو دوکاندار ؤ، له بهرنيانو او افغان دولت څخه ډېرې پيسې ترلاسه کړې او په خپله مخه ولاړ.
کابل ته د بدل ملا منصور په ورتګ، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال پيټریوس خوشاله ؤ چې ګواکې طالبان د دوی د پوځي عملياتو په نتيجه کې تر فشار لاندې راغلي دي چې له امله یې سولې ته حاضر شوي دي.
کله چې د جعلي ملا منصور خبره ډاګيزه شوه، خلک پوه شول چې د انګرېزانو هغه پخوانی پوهه او زيرکتيا چې له کبله يې نيمه نړی لاندې کړې وه، اوس نه ده پاتې، هر څوک کولی شي په افغانستان کې انګرېزان او نور بهرني استخبارات وغولوي او څه يې چې زړه غواړي هغه پرې عملي کړي، په دې اړه زموږ يو عزيز مرحوم ملا صاحب میم الله خان چې خورا هوښيار او زړه ور سړی ؤ او څېره يې تر ډېره اسامه بن لادن ته ورته وه، موږ ته په ټوکو او خندا وويل چې داسې چل به وکړو چې تاسو امریکایانو ته خبر ورکړئ چې اسامه موږ ليدلی دی او په ما پسې امریکایان راولئ چې ما ونيسي او هغه څو ميليونه ډالر چې د اسامه پر سر يې جايزه ايښې ده هغه به ترلاسه کړو.
ما چې د امریکا د (سي. آی. اې) جنرال ګيري شرون کتاب (سي. آی. اې، په پنجشېر کې) او نور اړوند کتابونه لوستي وو چې په هغه کې د امریکا د استخباراتو د ترهګرۍ ضد رييس کوفر بلاک (چې پخپله ترهګر او د دولتي ترهګرو مشر ؤ) په افغانستان کې د (سي. آی. اې) کارکوونکو ته دنده ورکوي چې اسامه بن لادن او نور لوړپوړي عربان ووژني او د اسامه غوڅ شوی سر، له يخ څخه په يو ډک صندوق کې هغه ته ولېږي ... . (د لاهور منګل پښتو ژباړه. ۴۴مخ)
نو ملا صاحب ته مې وويل: استاده دا کار ستا په مرګ تماميږي، اسامه امریکایان ژوندی نه نيسي امریکایان هغه ځای پر ځای وژني. (چې همداسې يې وکړل، اسامه يې ځای پرځای وواژه.)
د سولې عالي شورا پر وړاندې د طالبانو دريځ له دې امله له دښمنۍ او غولونې ډک ؤ چې طالبان پوهېدل د نوموړې شورا موخه دا ده چې طالبان د پيسو په بدل کې د منځ لارو او سخت دريځو په نومونو سره ووېشي. بله دا چې د سولې د عالي شورا مشر برهان الدين رباني د طالبانو د سر دښمن ؤ، د رباني د جمعيت ډلې له طالبانو سره ډېرې جګړې کړې وې او په پای کې له بهرنيو يرغلګرو سره د طالبانو پرخلاف يو ځای شو چې د خپل ملاتړ په پايله کې يې د طالبانو حاکميت وپرځاوه، طبيعي ده چې طالبانو د رباني د وژلو ټينګ هوډ درلود، هغه وو چې د سولې عالي شورا له جوړېدو يو کال وروسته «د ۱۳۹۰ل. ل، کال د وږی مياشتې په ۲۹مه نېټه، برهان الدين رباني د يو تن ځانمرګي لخوا چې د سولې د خبرو په پلمه د رباني د وژلو په موخه لېږل شوی ؤ، ووژل شو او د شورا دوه نور غړي ټپيان شول. طالبانو د رباني د وژلو مسؤليت په غاړه واخيست.» (بي، بي، سي. فارسي. ۲۰ سپتامبر ۲۰۱۱)




(د چوکۍ شهيد، برهان الدين رباني)

واک او ځواک ته د رسيدلو لپاره برهان الدين رباني له آره ډېر حريص کس ؤ چې دا ډول حرص د هغه په خټه (فطرت) کې اخښل وشوی او نغښتی ؤ. لکه چې پوهيږو په نويمه زيږديزه لسيزه کې نوموړی د ولسمشرۍ پر چوکۍ پورې د غوباړي مچ په څېر نښتی ؤ چې له کبله يې د جهادي تنظيمونو په خپل منځي جګړو کې ډېر شمېر افغانان ووژل او کابل يې وران او ويجاړ کړ. رباني چې د جمهوريت پر مهال ګوښه پاتې شوی ؤ او له ارګ څخه يې هم کډه ايستل شوې وه، د بهرنيانو لخوا هم ښندې ته شوی ؤ، له دې امله وه چې هغه په دې هڅه کې ؤ چې که نور څه نه وي نو د سولې عالي شورا رياست (چې ډېرې پيسې هم په کې دي) ترلاسه کړي هم غنيمت دی. لنده دا چې رباني د خپل حرص له امله ووژل شو، له بده مرغه چې ولسمشر حامد کرزي برهان الدين رباني ته د سولې د شهيد ستاينوم ورکړ، په داسې حال کې چې رباني ته بايد (د چوکۍ شهيد) ستاينوم ورکړای شوی وای.
شاوخوا اته مياشتې، د رباني له وژل کيدو وروسته، په ۲۰۱۲ز، کال مې مياشت کې د سولې عالي شورا مرستيال او په مشرانو جرګه کې سناتور، مولوي ارسلا رحماني چې د طالبانو په تېر امارت کې د لوړو زده کړو وزارت مرستيال ؤ، په کابل کې د نامالومو کسانو له لوري ووژل شو. طالبانو وويل چې د سولې عالي شورا غړو په وژنو کې لاس نه لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د سولې د عالي شورا رييس برهاالدين رباني له وژل کېدو نږدې يو کال وروسته د ۱۳۹۱ل. ل، کال، د لیندۍ په ۱۶مه نېټه، د ملي امينت پر عمومي رييس، اسدالله خالد باندې يو ځانمرګی برید وشو، برید هغه کس وکړ چې ځان يې د طالبانو لخوا د سولې استازی معرفي کړی ؤ، د کابل د تايمني په يو ميلمستون کې هغه مهال بريد ترسره شو چې اسدالله خالد د طالبانو لخوا د سولې د استازي په نوم راليږل شوي کس سره ليدنه درلوده، په چاودنه کې اسدالله خالد له ملا ښکته سخت ټپي شو.

(ArianaNews د لیندی ۱۷, ۱۳۹۱)



(د چوکی شهید زوی، صلاح الدین ربانی)

د رباني له وژني وروسته تر څه مودې پورې د سولې عالي شورا رييس نه ؤ ټاکل شوی، صبغت الله مجددي غوښتل د نوموړي شورا مشر وټاکل شي خو کله چې پوه شو د شورا مشري نه ورکول کېږي نو پر کرزي يې نيوکه وکړه او په حکومت کې يې له خپلو ټولو دندو استعفاء وکړه، هغه مهال مجددي د مشرانو جرګې پر غړيتوب سربېره، د منازعاتو د حل کميسيون مشر او د سولې د عالي شورا غړی هم ؤ. (۱۴وری ۱۳۹۱ل. ل)

هغه وو چې حامد کرزي خپله تېروتنه بيا ځلي تکرار کړه او د سولې د عالي شورا مشري يې د طالبانو داسې يو کس ته وسپارله چې يوازې ځو مياشتې وړاندې طالبانو د هغه پلار (رباني) وژلی ؤ، د شورا مشر د رباني زوی صلاح الدين رباني وټاکل شو.

له بلې خوا د ۲۰۱۳ز، په جون کې د قطر پلازمېنه، دوحه کې د طالبانو سياسي دفتر پرانيستل شو. امريکا اعلان وکړ چې دوی به مخامخ له طالبانو سره خبرې وکړي. ولسمشر حامد کرزی د امريکا او طالبانو دغو مخامخ خبرو او طالبانو ته د سياسي استازولۍ په ډول دفتر پرانيستو باندې خواشيني څرګنده کړه. د طالبانو له لوري د اسلامي امارت د بيرغ او نښان کارولو پر خلاف ولسمشر اعتراض وکړ، له همدې سره د قطر دفتر هم له لنډې مودې لپاره وتړل شو. حامد کرزي په دوحه کې د طالبانو د دفتر پرانستلو سره له دې کبله مخالفت وکړ چې د نوموړي دفتر د مذاکرو ابتکار له امريکايانو سره ؤ، امريکايانو په دې اړه افغان حکومت ته څه ارزښته نه ورکاوه، کرزي غوښتل چې افغان حکومت بايد د سولې په خبرو کې ښه ونډه ولري.

د سولې عالي شورا د خپلو ناکاميو او ناغېرېو له امله، د امريکايانو په نظر يوه بې اغېزه اداره وه او طالبانو خو نوموړې شورا ته د دښمن په سترګه کتل. خو بيا هم د ځان ښودنې په موخه، د سولې شورا خپل لاس پښې خوځول، شورا د قطر د دفتر د تړلو په اړه خپله خواشيني څرګنده کړه. د سولې د عالي شورا مرستيال عطاء الله لودين (بي بي سي) ته وويل: د دغه دفتر پر موقتي تړل کېدو ډېر خواشيني دي، هيله لرو چې مقابل لورى د خبرو لپاره چمتووالى وښيي او په قطر کې د طالبانو دفتر بېرته پرانيستل شي.

وروسته له څو مياشو ځنډ څخه د۱۳۹۳ل. ل، کال د ليندۍ په مياشت کې بيا ځلي د قطر دفتر پرانستل شو چې په حقيقت کې د جمهوريت د سقوط له بنسټيزو عواملو څخه همدا دفتر ؤ.

امريکايانو په خپل سر او د افغان حکومت له ګډون يا مشورې پرته له طالبانو سره مخامخ خبرې پيل کړې، امريکايانو د قطر دفتر له لارې، په افغانستان کې د امريکا يوازينی جنګي بندي (بو برګډېل) د قطر د حکومت په منځګړيتوب، د پنځو تنو لوړپوړو طالب بنديانو په بدل کې راخوشې کړ. (مې ۲۰۱۴) بو برګډېل په ۲۰۰۹ز، کال د جون په مياشت د افغانستان په سويل کې له نظامي مرکزه وتلی او ورک شوی ؤ، وروسته د طالبانو لاس ته ورغی او له هغوی سره څو کاله بندي ؤ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ




(د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر بارک اوباما او بو برګډېل د خبرو پر مهال)

نېټه: ۱۴۰۲/۴/۲۵ل. ل

**نور بیا**

[د لیکوال: آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ